# د موټرو د بیمې د فیس trafikförsäkringsavgiften په هکله پوښتنې او ځوابونه

د موټرو د بیمې انجمن (Trafikförsäkringsföreningen (TFF د سویډن د بیمو د شرکتونو لپاره یو ارګان دی. موږ د ترافیکي پېښو هغه تاوانونه عیاروو چه د نامعلوم، بیله بیمې او بهرني موټرو له خوا منځ ته راغلي وي.
موږ د نه بیمه شوي موټرو د چښتن نه یو فیس هم اخلو. دا فیس د هغه تاوان د جبران لپاره دی چه یوه چا ته د نه بیمه شوي یا نا معلومه موټرو له خوا رسیدلی وي.

## د موټرو د بیمې فیس څه شی دی؟

دا یو داسې فیس دی چه د ترافیکي خسارو د قانون د ۴۳ مادې په اساس یې موږ د موټرو د بیمې انجمن د هغو موټرو لپاره اخلو چه هغه نه وي بیمه شوي.

## دا فیس د څه شي لپاره مصرف کیږي؟

د موټرو د بیمې فیس د هغو خسارو د جبران لپاره مصرف کیږي چه یوه چا ته د نه بیمه شوي یا نا معلومه موټرو له خوا رسیدلي وي.

## دا فیس څرنګه حسابیږي؟

دا فیس د بیمې ترټولو نه جګ حق trafikförsäkringspremie نه لس په سلو کې جګ دی، یعنې داسې یو د بیمې حق چه د بیمې شرکتونو د هماغه مودې په بهیرکې، د همداسې یو موټر او د هماغه ډول استفادې کولو لپاره ټاکلی دی. د فیس د ټاکلو لپاره د بیمې په دغه بنسټي حق کې له ۲۰۰۷/۰۷/۱۰ نیټې راهیسې یوه مالیه چه تر ۲۳ فیصده پورې رسیږي، هم شامله ده. د فیس د حسابولو لپاره د موټر فابریکه، د موډل کال او جغرافیایي زون په پام کې نه نیول کیږي. دا فیس تل اقلاً ۲۰۰ کرونه وي.

## کوم موټر باید بیمه شي؟

د موټرو د بیمې مکلفیت د ترافیکي خسارو د قانون د دوهمې مادې په اساس عیاریږي. ماشین لرونکې ځمکنۍ نقلیه وسایط چه د لارې د ترافیک په راجستر کې ثبت شوي وي او د سیر جواز یې اعتبار ولري، باید بیمه شي. حتی ماشین لرونکې ځمکنۍ نقلیه وسایط چه راجستر نه وي او د سیر جواز ونه لري مګر د هغه نه استفاده کیږي، باید بیمه شي.

## له کومې ورځې نه باید موټر بیمه شي؟

موټر باید مستقیماً له هغه ورځې نه چه تا هغه اخیستی یا په کوم بل ډول تا په لاس راوړي، بیمه شي.

## څوک مکلف دی چه د بیمې یو تړون وکړي؟

موټر باید د هغه د چښتن له خوا بیمه وي. که موټر په قسط اخیستل شوی وي یا اجاره شوی وي، نو موټر باید د مالک له خوا بیمه شي. که د موټر خاوند صغیر وي نو باید موټر د سرپرست له خوا بیمه شي.

## د موټر خاوند مکلف دی چه خپل موټر بیمه کړي، حتی که چیرې:

- دا نه چلول کیږي
- دا په داسې یو بد حالت کې دی چه د هغه نه د استفادې امکان نشته
- په دې باندې د چلولو ممانعت وضع شوې دی
- دا غلا شوی
- دا د موټرو شرکت ته د خرڅولو لپاره ورکړ شوی دی
- له خاوند نه پرته کوم بل کس هم د دې موټر بیمه لري

## د یوې مودې لپاره د ثبت راجستر نه د موټر ایستل Avställning

که د موټر نه د یوې مودې په بهیر کې استفاده نه کیږي او یا دا چه دغه غلا شوی، نو کیدای شي چه موټرد یوې مودې لپاره د ثبت د راجستر نه وایستل شي. په دې صورت کې دې ته ضرورت نشته چه دغه موټر بیمه شي. ایستل د هغې روځې نه اعتبار لري چه یو مکمل غوښتنلیک د ترانسپورت لوی ریاست ته راورسیږي.

ته کولای شې د دې کار غوښتنه په لاندې توګو وکړې:
- د ترانسپورت لوی ریاست Transportstyrelsen په انترنیټي پاڼه transportstyrelsen.se کې
- د ترانسپورت لوی ریاست د خدمتي ټیلفون 25 25 25-0771 له لارې
- د موټر د راجستر په سند registreringsbeviset کې د لیکلو په وسیله

د زیاتو معلوماتو لپاره، د خپل موټر د راجستر سند وګوره یا د ترانسپورت لوی ریاست انترنیټي پاڼه transportstyrelsen.se وګوره.

## د تل لپاره د ثبت راجستر نه د موټر ایستل Avregistrering

که یو موټر توته شوی وي یا صادر شوی وي، نو باید دغه موټر د تل لپاره د ثبت د راجستر نه وایستل شي. د دې کار لپاره باید یو لیکل شوی غوښتنلیک د ترانسپورت لوی ریاست ته واستول شي. د زیاتو معلوماتو لپاره، د خپل موټر د راجستر سند وګوره یا د ترانسپورت لوی ریاست انترنیټي پاڼه www.transportstyrelsen.se وګوره. د تل لپاره د ثبت راجستر نه د موټر ایستل د هغې روځې نه اعتبار لري چه یو مکمل غوښتنلیک د ترانسپورت لوی ریاست ته راورسیږي.

## د ځمکنۍ ترافیک په راجستر vägtrafikregistret کې د چښتن په هکله غلط اطلاعات

که د ځمکنۍ ترافیک په راجستر کې د چښتن په هکله غلط اطلاعات ثبت شوي وي، نو ته باید د ترانسپورت لوی ریاست سره تماس ونیسې.

## که د بیمې حق تحویل نه شي

که د موټر د بیمې حق په خپل وخت تحویل نشي، نو د بیمې شرکت دا حق لري چه بیمه فسخ کړي. د بیمې شرکت تر هغه روځې پورې د بیمې مسئولیت لري چه د بیمې فسخ کیدل لازم الاجرا کیږي. د بیمې شرکت دا حق لري چه تر هغه روځې پورې د بیمې حق تحویل شي. د بیمې شرکت په عادي توګه د بیمې د حق غوښتنه د موټرو د بیمې انجمن ته سپاري.

## د بیمې حق په تحویل کې ځنډ

که د بیمې حق له هغه روځنې نه وروسته چه په هغه کې بیمه فسخ شوې وي د بیمې شرکت ته تحویل شي، نو په دې صورت کې یوه نوې بیمه پیل کیږي. د نوې بیمې اعتباراړد بیمې د تحویل روځې نه یوه روځ وروسته پیل کیږي. د بیمې حق تحویل کول په ټیر شوي وخت باندې کومه اغیزه نشي کولای.

Trafik
försäkrings
föreningen

د موټرو بیمې د انجمن د مشتریانو د خدمت برخې سره په لاندې توګه کیدلای شي تماس ونیول شي: ټیلفون 00 781 522-08
بریښنالیک info@tff.se ، یا انترنیټي پاڼه www.tff.se